# نیویورک تایمزولیکل:
# دامریکا اردواوځواکونه بله چاره اولاره نه لری بیله دا چې اقرار وکړی چې په افغانستان کې یې جنایت کړی دی !

دانټرنیټ دفارسی سرچینوڅخه

ژباړونکی ؛ عزیزاحمد خوارمل






یوی امریکایی ورځپاڼی په یو ترلاسه سوی رپوټ کې د(۱۴۷) یوسل اوه څلویښت غیروسلوال اوبی ګناه ولسی خلکوپر وژنی باندی چې دامریکا په هوایی یرغل کې دافغانستان په لویدیځ دفراه ولایت دفراه رود دولسوالی دبالابلوک اودکرانۍ په کلیوکې صورت موندلی وو ،په ټینګار سره وایی چې دامریکا داردوځواکونه بله چاره اولاره نه لري بیله دا چې په افغانستان کې په خپلو جنایاتو باندی اقرار ونه کړی.

دنیوریاک ټایمز ورځپاڼی ولیکل: دامریکا ددفاع وزارت یو جګپوړی چارواکی اعلان وکړ ،دا وروستنی خیړنوونښودل چې دامریکا پوځۍ ځواکونه په خپلو هوایی یرغلونوکې یې تیره میاشت دافغانستان په لویدیځه سیمه کې دفراه ولایت دفراه رود دولسوالی دبالابلوک اودکرانۍ په کلیوکې دملاحظی وړ تیروتنی یې ترسره کړیدي اوپه دی باندی تورن دي .

دغه امریکایی چارواکی چې دخپل نوم دښودلو اواخیستلوڅخه یې ډده کوله وی ویل: که دامریکا هوایی اوځمکنۍ ځواکونه قوانین یې پرپښو لاندی نه وای کړی ،دروان کال دمی دمیاشتی پر(۴ )ځلرمه نیټه باندی دافغانستان په لویدیځه سیمه کښې دفراه ولایت دفراه رود دولسوالی دبالابلوک اودکرانۍ په کلیوکې کیدی سوای چې دوژل سویو غیروسلوال اوبی ګناه ولسی خلکوشمیر به ډیر لږ وای. دغه ځواکونه چې دغیروسلوالو ،غیرپوځۍ اوولسی خلکوپه

ساتنه کې مسؤولیت یې درلودل ودی مهمی ټکی ته نه وو ځیر سوي اودغه امریې نه وومراعت کړی.

دغه امریکایی ورځپاڼی ددی مطلب په ادامی سره لیکی:دامریکا ددفاع وزارت دپلټنی ډله چې دغه رپوټ یې خپورکړی دی ،دامریکا ددولت ښکاره اقراردخپلو تیر وتنوپه هکله په دی هوایی یرغلونه کې دی اودغه مسئله ډېر ښه مناسب فرصت یې دګوتنیونکواودافغانستان دډېروخلکو په واک کې ورکوي ترڅوبل ځل دامریکا دولت ترټینګوګونیونولاندی ونیسی اودځواکونوفعالیتونه یې په دی سیمه کې محکوم کړي .

ددی پیښی درامنځته کیدو وروسته چې (۱۴۷)یوسل اوه څلویښت غیروسلوال اوبی ګناه ولسی افغانان ووژل سول ،دامریکا دځواکونوقوماندانان دا یې ومنل چې په ټینګه سره به دغه پیښه وڅیړی اوډېر ژر به اصلی ګناهګار وروپیژنی اما دوخت په تیریدوسره امریکایی چارواکی بله چاره اوبله لاره یوازی بیله اقراره څخه پر دی جنایت باندی نه لري.

داځو ورځې مخکې دی چې ویلی کیږی جنرال "استینلي مک کریسټال " ډېر ژربه په افغانستان کې دامریکا دځواکونودقوماندان په توګه وټاکل سی ، اوجنرال مک کریسټال په دی اړه داهسی یې وه ویل : دغیروسلوالوا وولسی خلکو وژنه ،مرګ اوژوبله به دامریکا اعتبارا وحیثت به ترسوال لاندی راوړی .

ده ددی مسئلی په ادامه سره وویل،دپلټنی دډلی رپوټ اوداردوڅیړنه د دی امرڅخه حکایت کوي چې یو تن دجنګی الوتکوپیلوټ چې ورته امر سوی وو چې په سمیه کې وسلوال مخالفین اوددښمن ځواکونه سته دی او هغه دغه سیمه خپله موخه وټاکی اوبمبارد یې کړی ،دیولړدلایلوپربنسټ دغه پیلوټ ودی ته مجبوره سوی ووچې دسمیی څخه یوځوځانیی بیرته راوګرځی اوپرشاتګ وکړی اما درامنځته سوی ستونزی دایسته کولوڅخه را وروسته په ضمن کې دغه پیلوټ ددی ټکی په هیرولوسره چې دطالبانوځواکونه دتښتی فرصت یې پیدا کړی ،کوم وخت چې دسیمی دموخی وځای ته ورسیدی اودموخی دبل ځل تایید څخه ،دسیمی په بمباردیې پیل وکړ چې د دغه پیلوټ تیروتنه دډېرغیروسلوالواو دبی ګناه ولسی خلکو دوژنوسبب وګرځیدی اودغه کړنه یوازی یودهغوتیروتنو څخه دی چې دامریکایی ځواکونودخوا ددغی پیښی په رامنځته کولوکې وو.

دامریکا ځواکونه له دی مخکې خپل وروستی جنایت یې چې دافغانستان په لویدیځ دفراه په ولایت کې دفراه رود دولسوالی دبالابلوک اودګرانۍ په سیمه کښې دامریکا دهوایی ځواکونو په یرغل کې (۱۴۷)یوسل اوه څلویښت غیروسلوال اوبی ګناه ولسی افغانان ووژل سول امریکائان منکره اوپټه خوله وه اما دلاسته راغلی شواهدپربنسټ نورنوددی جنایتونوپټول ناښوونی وو.

# يو امريكايي جنرال په افغانستان کې دغيرپوځې اوبې ګناه ولسي خلکو دوژنو په هکله ګوت ځنډنه يې وکړ :

يوامريکايي جنرال تيره اونی په افغانستان کې دغيرپوځې اوبې ګناه ولسي خلکو دوژنوپه هکله يې ګوت څنډنه وکړ او وی ويل په هغه صورت کې که په افغانستان کې دغيرپوځې او ولسي خلکو په وژنوکې لېږوالي را نه سي ،دوسلوالوطالبانوپه وړاندی مبارزه به دماتی سره مخامخ سي.

جنرال استنلي مک کريستال چې دامريکا دجمهور رئيس دبارک اوباما دخوا په افغانستان کې دميشتوامريکايي ځواکونو اودناټودځواکونو دقوماندان په توګه ټاکل سوی دی ،دامريکا په کنګره کې په خپل بيانی کې په څرګنده سره يې وويل : دبهرنی ځواکونوپه پوځې عملياتو کې دغيرپوځې او ولسي خلکو وژنه ، به دافغانستان خلک ډېر خواشيني اوخوابدی کړي اوپه دی هيوادکې دجګړی ټول لاسته راوړنی به کمزوری کړی.

مک کريستال دامريکا دسنادوسلوالوځواکونودکيمټي په يوه غونده کې چې دده دټاکل کيدو ،دتاييداومنلودپاره په دی پست کې دسنا لخوا ودی غونډی ته راوبلل سوی وو،جنرال مک کريستال په دی هکله وويل : دماتی په صورت کې که دوسلوالومخالفينودټوليزورامنځته کيدلوسبب وګرځي ،بريالیتوب به بيا ټينګښت ونه مومی. ده ددی مسئلی دارزښت په اړه وويل ، دغه مبارزه دافغانستان دخلکودملاتړ دراجلبول دپاره دی. ده زياته کړه چې دی هيله مندی چې د عملياتوپه ترسره کولوکې په ټينګه سره په نظر کې ونيول سی چې دغيرپوځې او ولسي خلکو دوژل کيدوځخه مخنيوی وسي اودورانيو اودويجاړيوکچه راټيټ سي ،اودغه کړنه زموږداعتبار اوکريډت دپاره ډېر اړين دی.

جنرال مک کريستال چې دجنرال ديويد مک کرنان پرځای په افغانستان کې ديوی جګپوړی قوماندان په توګه ټاکل سويدی، دامريکادسناوغړيوته وعده ورکړ اودايې ومنل چې دغيرپوځې اوولسي خلکو ساتنه دده دکار په لمړيتوب کې ځای ولري ،ده څرګنده کړه بريالی توب بايد دوسلوالومخالفينوپه وړاندی په مبارزه کې په ډېره پاملرنی سره دپاته افغانانوته دمصؤنتيا اوسلاميتا په خاطر دشخړوپه په وړاندی وی ،نه دوسلوالو مخالفينو په وژل کېدوسره بايد دغه لړليدترڅېړنی لاندی ونيسو .

دغه امريکايي جنرال په ټينګارسره وويل : په هغه صورت کې که دامريکاد سنا دجرګی استازي دده ټاکنه وی دی پست ته تاييدکړی او وی منی ،دی به په قوانينواوپوځې تاکتيکونوکې به دسره نوی غور وکړی ترڅودغيرپوځي اوولسي خلکو دوژنوځخه مخنيوی وکړي .

ده وویل ډېرشمیر کشفی الوتکی به دځیرتیا په زیاتوالی اودموخوپه دقیق نخښه کولوسره به دامریکایی ځواکونو په عملیاتونوکې مرسته وکړی.

دواشینګټن څخه دفرانسی دخبری آژانس په حواله ،دغیرپوځی او ولسی خلکو وژنه چې اکثره وخت دامریکا دهوایی ځواکونوپه یرغل اوبمباریوکې رامنځته کیږی ، په افغانستان کې په ټولیز ډول سره دخلکوقهراوغضب یې په زیاته اندازی سره راپاره ولی دی اوشخړی ددی هیواد د دولت سره ددی سبب ګرځېدلی دی چې لویدیځ هیوادونه اوامریکایان له دی کبله په تشویش کې دی اودغه مسئله دوسلوالوطالبانو په تبلیغاتوکې ګټور څرګنده سي .

جنرال مک کریسټال چې دامریکا دسنا دجرګی دوسلوالوځواکونودکمیټی دغړودخوا دتود هرکلی سره مخا مخ سو ،خودی ددغه قوماندانی مسؤولیت دوخت اوزمان په یوداهسی مهموتاریخی شیبو اوپه جګړه کې په افغانستان کې دغه دنده اومسؤولیت په غاړه اخلی چې ، دامریکا جمهورئیس بارک اوباما دافغانستان دپاره نوي استراتیژی اعلان کړ او د(۲۱۰۰۰ ) یوویشتوزرونوي ځواکونودلیږلو امریې ورکړ ترڅو چې په دی هیواد کې دمشیته امریکا یې پوځیانواو ځواکونودغښتلیااوملاتړ دپاره په مبارزه اوجګړه کې ګټورواقع سي./

اخیځلیک :- دقطره نیوز ،اوفارس نیوز څخه